مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌ولی ارین

۲۰۲۶/۰۸/۲۴

# رژېدلې هیلې

## (لنډه کیسه)

هغه د کورنی تر ټولو وروستی اولاد و، د پلار له مرګه درې میاشتې وروسته یې نړۍ ته سترګې پرانیستې، ځکه د کورنی پر ټولو غړو خورا ګران و، مور یې بی د خپل خاوند له مرګ وروسته د پښتونولی د ناسمو دودونو له امله د خپل خاوند د یوه حریص او ظالم تره تر فشار لاندې راغله، هغه غوښتل چې، د دوي کونډه دې باید ځانته یې نکاح کړي، جایداد او ځمکه یې غصب کړي، چې دغه چاره یې د خپل د یو بل ورور د کونډې په حق کې هم تر سره کړي و.

شیردل ډېرې منډې رامنډې ووهلې، خو خپل دغه شوم پلان ته ونه رسید، ځکه د ګل‌بي‌بي ورونه او خپلوان تکړه او قومي ملاتړ یې درلود، ځکه شېردل خپلو شومو موخو ته ونه رسید.

ګل‌بي‌بي دوې لوڼې او دوه ځامن درلودل، لوڼې یې مشرانې وې دریم اولاد یې ولی‌محمد او تر ټولو کشر نوراني نومېده چې د پلار له مرګه وروسته دونیا ته راغلی و.

ګل‌بي‌بي چې د خاوند د تره زامن یې په ښوونځیو کې زده کړې کولې، هم په دې سوچ کې وه چې کله به ولی محمد شپږکلن کېږي چې ښوونځی کې یې شامل کړي.

هو ریښتیا ولی‌محمد شپږکلن شو، ښوونځی یې پیل کړه، مور به تل ورته ویل، چې ګرانه ځویه پام کوه چې سیالانو ته مې کمه رانه ولې، د پلار د تره دې دوې سترګې زموږ لورته دي.

د خدای پاک کاروته وګورئ چې د شیردل څلور ځامن ځوک له وار وار ناکامیو وروسته د سن د لوړوالی له امله له ښوونځی وویستل شول او چا تر نهم ټولګي وروسته زده کړې پرېښوولې، مګر ولی محمد خپلې زده کړې د خپل مور د ارمانو د پوره کولو په خاطر د ماسترۍ تر کچې ورسولې.

نوراني هم تر شپږمه ټولګي زده کړې تر سره کړې، خو د کورني چارو او ځمکو د کروندو له امله یې نورې زده کړې تر سره نه کړې.

ولي‌محمد د زده کړو له پای وروسته د مور بي‌بي له قوله چې ویل یې:

«هغه په کابل کې چېرې مامور که سرکاتب شو، خدای وشرماوه حزبی هم شو.»

هغه وایي:

«انقلاب وشو، خدای دې انقلاب میرات کړي بیا مې نور ولی‌محمد ځوی د کلی مخ ونه لید او نه موږ هم ولی‌محمد، چېرې یې کومه غټه وظیفه لکه چې درلوده، خو تکلیفونه یې موږ تیرول.»

هغه زیاتوي:

«دغه ټوپک والا را پیدا شوول چې مجاهدین یې ورته ویل، خو وروسته څرګنده شوه چې جهاد چېرې و، پاک سوتره غله وو.»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هغه بیا وایي:

«دغو مجاهدینو او که غلو دومره عذاب کړو، جریمې به یې اخیستې، ډوډۍ، پولاونه به یې جبري له موږ نه خوړلي، چې ځوی دې کافر دی.»

هغه زیاتوي:

«له یو خوا د دغو غلو مجاهدینو زجر او تکلیف او له بله خوا د دولتي طیارو ړندو بمونو دې ته اړویستوو چې خپل ټول هست او بود پریږدواو پېښور ته کډه شو، هغه ورځ چې په سرو سترګو مو ژړل او هر څه رانه پاتې شول زموږ د ژوند هغه ترخه وو، چې هیڅکله بیا جبران نه شول.»

ولیمحمد وایي:

په کوچنیوالی کې به کله چې مور رانه په عذاب شوه نو داسې به یې راته ویل:

«خدای دې له تورو اوبو تېر کړه.»

دولتي مشغولتیاوو او د هېواد پیچلوشرایطو او ناخوالو، جنګ جګړو ولی محمد د مور او کورنۍ له څنګ نه لرې کړ او له تورو اوبو یې هم تېر کړ.

هو، رېښتیا هم ولیمحمد له تورو اوبو تېر شو پایله یې اروپا ته ورسیده.

اوس نو موربېبې ټوله پاملرنه خپل کشرګران ځوی نوراني ته درلوده، هغه ته یې له یوې مخورې کورنۍ نه نجلۍ واده کړه، دا چې کلیوال یې زیات د ګلبالدین په تنظیم کې وو، دوي هم په پېښور کې د شمشتو په کمپ کې دېره شوول.

هلته هم دا چې نوراني د تنظیم غړی نه وه د تنظیم له ټولو مرستو محروم و، دا چې د کور نازولی لوی شوي و، د کار اوبار هم نه و، یوازې دې ته سترګې په لار و، چې کله به ولیمحمد ورته له اروپا نه یو څه ورلیږي.

وار وار د ښځینه ماشوم خاوند شو، په کورکې ټول سره اندېښمن و، خیراتونه، تعویضونه او نورې ټولې ټوټکې به یې کولې چې خدای تعالی ځوی ورپه برخه کړي، دا د کورنۍ د ټولو غړوهیله او اومېد وو، حتی د ولیمحمد په ګډون.

هو خدای تعالی مهربان شو پس له ډېر وخته کورکې نارینه ماشوم نرۍ ته سترګې پرانیستې، ټول ورته خوشاله وو، پر هر څه خورا ګران و، خو په خپل مور نازنېنې تر هر چا لا ډېر، نیا یې نوم پرې عبدالله کېښود.

عبدالله د کور نازولی و، ورو- ورو غټیده له کوچنیوالی نه یې د کور د غړو په نا فرمانۍ پیل وکړ، هر څه چې به یې کول که نیا، یا پلار ورته قاریدل، مور به یې ورغبرګ کړ زما پر دې یو ځوي هم ستاسو لورینه نه شته، څه مه ورته وایي، چې غټ شي ښه به شي، عبدالله په کور کې د هیچا پروا نه درلوده یوازې د خپل نیا نه یو څه ډاریده، ځکه هغه د کور مشره وه او د کورنۍ غړو یې هم عزت کاوه او هم ترې ډاریدل.

عبدالله په کور کې د خپل ظلم او استبداد لړې په خپله خویندو پیل کړه ورروسته بیا پرخپلې هغې مور چې عبدالله تل له بل هرچا ورته ګران و.

کله چې ځوان شو په قمار، چرسو او بدماشي یې لاس پورې کړ، پلاریې چې د عزت خاوند و، دسترخوان یې درلود په خپل هېواد او د اوسیدو په محیط کې د ښه شخصیت او اتبار خاوند و، د خپل ځوی عبدالله د اعمالو له امله خپل ځان ډېر ټیټ او ناتوان احساسوه، بلاخره مریض شو او تل به یې ویل چې:

«دا ټول د عبدالله له لاسه دي.»

نوراني د ډېرو تشویشونو له لاسه خورا سخت بیمار شو، په داسې سختو شیبو کې عبدالله خپل پلار یوازې پریښود او ایران ته ولاړ، هلته په عیاشۍ بوخت و، خو نوراني چې په روغتون کې بستر و، خوریانو او نورو نږدې خپلوانو به یې پالنه او خدمت کاوه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ورور يې ولی‌محمد هم له اروپا نه پيښور ته ورغی يوه مياشت يې خورا منډې رامنډې وکړې نه يې شخصي روغتون پرېښود او نه دولتي، خو خدای چې پوره کړې وې بله نه کېږي.

نوراني چې په کټ کې روغتون ته راوړل شوی و له خورا ډېرې درملنې وروسته په خپلو پښو کور ته راستون شو، خو دا خبره يې تل کوله چې:

«خدايه عبدالله مې مخې ته مه راوله، هيڅکله به ښځه ورته ونه کړم، ځکه چې بيا به همداسې ځوی ورپه برخه شي لکه دی، او زما په مړي يې هم پرېنږدي.»

نوراني د خورا ډېرو انديښنو او ورپېښې ناروغۍ له امله ومړ، جنتونه يې ځای شه، عبدالله هم کله چې خبر شو پلار يې وفات شوی له ايران نه راستون شو، خپلې نيا او مور ته يې توبه و کښله چې ما وبښئ زه به وروسته تر دې هر څه سم کړم. هغه له خپل تره سره هم رابطه وکړه.

نيا يې هم پر ولي‌محمد ټينګار وکړ چې عبدالله توبه وکښله اوس سم شوی واده ورته وکړه، د کورنۍ، جايداد مشرئ او صلاحيت ورته ورکړه.

تره يې د خپل مور خبره ومنله، دوی يې له پيښور نه خپل کلي ته وغوښتل له اروپا نه ولاړ ښه شانداره واده يې ورته وکړ، ښه کور يې ورته جوړ کړ، هر څه يې په اختيار کې ورته ورکړل، خو په خواشينۍ سره چې که پخوا ليوه و اوس نو پړانګ ترې جوړ شو.

تر څو چې موربې‌بې ژوندی وه، ولي‌محمد به مرسته کوله، خو له هغو پيسو به ډېرې لږ په کور کې مصرفيدي او نورې به د عبدالله چرس او چلم کېدې، همداسې چې يې پلارد ده له غمه مړ شو، نيايي هم خپل اميد او ارمان ګور ته ويوړ.

د نيا تر مرګه وروسته يې د پلارنۍ ځمکو په خرڅلاو پيل وکړ يو په بل پسې يې خرڅوله، خپله برخه يې ټوله وپلورله، د خويندو، مور او نيا برخې يې هم وپلورلې، يو څه چې يې د تره برخه پاتې وه په هغې يې هم سرفه نه کوله، بلاخره تره يې اړويست چې د هغه ځای خپله ټوله شتمني په ډېره کمه بيه او يا رايګان د نورو اختيار کې ورکړي او ځان د عبدالله له ناورين نه وژغوري.

عبدالله له خپلې کورنۍ سره داسې کردې وکړې چې هم يې پلار، هم يې مور، هم يې نيا او هم يې خپل مهربانه تره ناهيلې او نا اومېده کړل او په وروستيو کې حتی خپله مېرمن او ماشومان هم د ده له کړاو نه بې برخې پاتې نه شول.

پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ